دوستان گرامی در پورتال مبارز "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان"

حین مشاهدهٔ سایت "لر او بر افغانستان" نظرم به گزارش کنفرانس هالند افتاد که بتاریخ ۱۱ اپریل ۲۰۰۹ پیرامون حوادث افغانستان انعقاد یافته بود. جناب محترم داکتر صاحب روستار تره کی هم در آنجا سخنرانی کرده بودند. سعی نمودم تا نکات عمدهٔ صحبت شانرا برداشته و خدمت شما دوستان گرامی تقدیم نمایم تا اگر ممکن باشد نظریات موجز داکتر صاحب تره کی را در پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" گزارش دهید. از لطف تان يك جهان اظهار سپاس می نمایم. همکار پورتال




داکتر صاحب روستار تره کی در حال صحبت

## د افغانستان دسیاسي چارو څېړونکی ، حقوقپوه ډاکټر محمد عثمان روستار تره کي د وینا په اړه د ډاکټر طارق رشاد نظر

ښاغلي استاد هم د لاندې موضوعاتو په اړه ارزښتناک مالومات وړاندې کړل، چې غوره ټکي يې په لاندې ډول ول:
- په پاکستان کې ۳۵۰۰۰ ديني مدارس شته، چې له هغو څخه په زرګونو طالبان فارغېږي.
- نړيوالو چې د تروريزم او القاعدې سره د مبارزې په اړه کومه پرېکړه کړې له خپلو اهدافو څخه يې تېری کړی دئ.
- د افغانستان جګړه د مسيحت او اسلام تر منځ ده.
- اوسنی جګړه خپلې سياسي او اقتصادي موخې لري.
- اوسنی روانه جګړه د اسلام او مسيحت مدنيتونو تر منځ جګړه ده. د جګړې اصلي قربانيان ولسي مسلمانان دي.

- له دغه جګړې څخه د سياسي او اقتصادي موخو په توګه ګټه اخيستل کېږي.
او هم دا ډول استاد تره کي د جګړې لاملونه په دوو برخو ووېشل:
۱ – د جګړې بهرني لاملونه
۲ – د جګړې کورني لاملونه
په پای کې يې څو وړانديزونه په دې ډول ول:
- په شخصي او ډله ايزې توګه دې د سولې پروګرام رامنځ ته شي.
- د انتقالي-موقت حکومت رامنځ ته کېدل.
- د امنيت په اړه تصميم نيول.
- د راتلونکو انتخاباتو لپاره زمينه برابرول.
- د ولسمشرۍ لپاره ټولټاکنې په اوسني وخت کې سياسي توطّه ده.
- د جګړې د دوام په جريان کې انتخابات بايد تحريم شي.
- د خلکو د اذهانو د روښانولو لپاره دې مطبوعاتي کومېټه جوړه شي او نوموړی وړانديز دې په پرېکړه ليک کې هم په پام کې ونيول شي.

روستار تره کی:
هغې عمليي چې تر اوسه يې ګټوره پايله نه درلوده، په له منځه وړلو او نوي عمليي سره به يوی نوی ميکانيزم، چې ټولې ښکېلې خواوې په هغې کې ګډون ولري او ملي ارزښتونه په پام کې ولري، زموږ لپاره به د حل لاره پرانيزي..
روستار تره کی:
په اوسني اساسي قانون کې، ډېر داسي مواد شته، چې هغه اصلاح ته اړتيا لري. د دې لپاره، چې په راتلونکي کې د چارو په سرته رسولو کې ستونزې رامنځ ته نه کړي، نو هغه ته بايد بدلون ورکړل شي.
روستار تره کی:
په اساسي قانون کې به د ملي يووالي، ملي ګټي او ملي ارزښتونو په اړه به مواد تسويد او تصويب شي.
وروسته له ازاد بحث څخه د څېړنغونډې په پای کې پرېکړه ليک مسودې باندي هم خبرې اترې وشوې او په يو څه بدلون او د آزادو رايو د اخيستلو له لارې د ټولو ګډونوالو لخوا تصويب شو.